دَ اللّٰه تعالیٰ دَ حمد وثنا په موضوع
لیکلی شوی 46 کلامونه

# حمدونه ملغلرې

تصنیف

مولانا احمد علی مردانی

Ketabton.com

ناشر
اسلامی ادبی ټولنه مردان

حمدونه ملغلرې

ناشر
اسلامی ادبی ټولنه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

دَ حمدونو حسينه ګلدسته

# حمدونه ملغلري


تصنيف

مولانا احمدعلی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامية

علامه محمدیوسف بنوري ټاون کراچی)

یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمٰن الرحيم

## وړومبي خبرے

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام علىٰ اشرف الانبياء والمرسلين اما بعد !

دَ اللّٰه تعالىٰ حمد وثنا بيانوُل يو عظيم عبادت دے، دُنيا کښې دَ انسانانو نه علاوه نور مخلوقات هم په خپله خپله ژبه کښې دَ اللّٰه تعالىٰ حمد وثنا بيانوى ، هغه که مارغان دى يا که نور ځناور دى يا نور مخلوقات دى هريو دَ خپل وس طاقت موافق په دغې حمد وثنا کښې لګيا دے . دَ انسانانو نه علاوه يو داسې مخلوق هم شته چې دَ اللّٰه نافرمانى بالکل نه کوى هريوه لمحه ئې عبادت وى هريوه لمحه ئې دَ مولا کريم په حمد وثنا او اطاعت کښې تيرېږى دغه مخلوق مونږ دَ فرښتو په نوم پيژنو . فرښتې دَ مولا کريم نافرمانى بالکل نه کوى دغه نورانى مخلوق دے . دَ هغوى حمد وثنا بيانول دَ هغوى دَ پاره دَ لذت دَ اطاعتِ خداوندکريم يو ذريعه ده دَ فرښتو نه علاوه دوه قسمونه مخلوقات نور داسې شته چې دَ اللّٰه تعالىٰ دَ اطاعت سره سره کله کله دَ اللّٰه تعالىٰ نافرمانى هم کوى په دې وجه له دغې مخلوق

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دَ دوی په دغې نافرمانو اللّٰه تعالیٰ ناراضه شی . بیا
په دغې مخلوق کښې ځنې توبه اُوباسی ، ذکر او
اذکار اوکړی او دغه رنګ نور عبادتونه اُوکړی ، هغه
اعمال دَ دوی دَ ګناهونو دَ ریژیدلو سبب اوګرځی .
حمد وثنا سره یو طرف ته انسان ته نیکې اجر وثواب
ملاویږی او دَ جنت او دَ جنت دَ نعمتونو دَ سکون
مستحق ګرځی ، بل طرف ته ورسره دَ انسان لوئې او
واړه ګناهونه چې توبه ورسره شامله شی هم ریژیږی .
دَ انسان دَ زړهٔ دصفائی یوه اهم ذریعه ، وسیله هم دغه
ذکر او اذکار دَ اللّٰه کریم حمد وثنا بیانول دی . ما
احمدعلی هم ددغې مقصد حاصلولو دَ پاره دَ مولا
کریم حمد وثنا په شعرونو کښې بیان کړے ده ، دَ مولا
کریم نه دُعا ده چې زما دغه مختصر کوشش دې په
خپل دربار کښې قبول او منظور کړی او ماله دې ئې
وسیله دبخشش دَ ګناهونو او ذریعه
دَ نجات اُوګرځوی . ....وما توفیقی الا باللّٰه

احمدعلی

ساکن خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله الرحمٰن الرحيم

## حمد باری تعالیٰ ﴿ 1 ﴾

چې مالك د هرصفت دے، يو الله ربَ العزت دے
چې ئې ذكر ډير اوچت دے، يو الله ربَ العزت دے
د آسمان او لامكان، د ځنګل او بيابان
د دې غرونو او ميدان، د دې زمكے او آسمان
مالك دلته هر ساعت دے، يو الله ربَ العزت دے
چې مالك د هرصفت دے، يو الله ربَ العزت دے
نهٔ محتاج د يو بشر، نهٔ محتاج د لر او بر
نهٔ محتاج د يو افسر، رهنما د بحر و بر
يو مالك د هر نعمت دے، يو الله ربَ العزت دے
چې مالك د هرصفت دے، يو الله ربَ العزت دے
يو دے يو زمونږ معبود، يو دے يو زمونږ مسجود
يو دے يو په خپل وجود، مهربانه دے ودود
نوم كښې پروت ئې بركت دے، يو الله ربَ العزت دے
چې مالك د هرصفت دے، يو الله ربَ العزت دے
د مشكل مشكل كشا دے، د هر درزنا رنا دے
هم طبيب دے هم دوا دے، اے احمده! يو الله دے
زمونږ سر باندې رحمت دے، يو الله ربَ العزت دے
چې مالك د هرصفت دے، يو الله ربَ العزت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمد باري تعالیٰ ﴿ 2 ﴾

راجمع کوومه په حمدونو خپل مولیٰ خوشحالووم
په ذکر سره خپل خالق د دي دنیا خوشحالووم
سحر ماښام دالله نوم په مینه مینه اخلم
شکلے تمام د الله نوم په مینه مینه اخلم
نوم د الله سره دنیا کښي یو الله خوشحالووم
راجمع کوومه په حمدونو خپل مولیٰ خوشحالووم
مزه او خوند شته هر طرف ته د الله په نوم کښي
نشته دے نشته دا مزه خوند د بل چا په نوم کښي
خالق د ټول مخلوق زۀ هرځائے په رښتیا خوشحالووم
راجمع کوومه په حمدونو خپل مولیٰ خوشحالووم
غوارم هغۀ نه ، د بل چا نه دلته سوال نۀ کوُم
غوارم هغۀ نه ، د دنیا نه دلته سوال نۀ کوُم
په ښکلی کار سره خالق د انبیاء خوشحالووم
راجمع کوومه په حمدونو خپل مولیٰ خوشحالووم
کله تري پټ سوالونه کووم ، کله په جار تري غوارم
په هر مشکل کښي هرطرف ته باربار تري غوارم
صرف هغۀ ته نظر کووم ، مشکل کشا خوشحالووم
راجمع کوومه په حمدونو خپل مولیٰ خوشحالووم
هره سجده ، هریو قیام صرف الله د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـوومــه هـر ځــائـے حق کلام صـرف اللّـه د پـاره
وائـی احـمـد پـه ښـۀ ویـنـا حق رهنما خوشحـالووم
راجـمـع کـوومـه پـه حـمدونو خپل مولیٰ خوشحالووم

حمد باري تعالیٰ ﴿ 3 ﴾

حـمدونـه جـمـع کـوومـه زۀ یـو هار تـریـنـه جوړوم
تـوښــه د ځــان د پــاره د بـل دار تــریــنــه جوړوم
مــحشـر کښـي پـکــاریــږي دا تـوښـه بـه د جهـان
مـحشـر کښـي پـکــاریـږي دا تـوښـه بـه د انسـان
مـحشــر لــره د سـختـو مـددګـار تـریـنــه جوړوم
حـمدونـه جـمـع کـوومـه زۀ یـو هار تـریـنـه جوړوم
میـزان کښـي دانسـان د پـاره دغـه دروند عمل دے
میزان کښي مسلمـان د پـاره دغـه دروند عمل دے
د زړونـو پـــه دنیـا بـانـدي قـرار تـریـنــه جوړووم
حـمدونـه جـمـع کـوومـه زۀ یـو هار تـریـنـه جوړوم
بـدلـه ئي پـه مـحشـر کښي هرانسان د پاره شته دے
بـدلـه ئي پـه مـحشـر کښي مسلمان دپاره شتـه دے
یــو تــاج تــریـنــه د ســر زۀ د وقـار تــریـنــه جوړوم
حـمدونـه جـمـع کـوومـه زۀ یـو هار تـریـنـه جوړوم
رضـالــه دمـولیٰ دپـاره دا دغـه لوئـے عـمـل دے
احـمـدعـلــی ! فـلاح د پـاره دغــه عمل تل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرې ځان دپاره په هر لار ترینه جوړوم
حمدونه جمع کوومه زۀ یو هار ترینه جوړوم

حمد باري تعالیٰ ﴿4﴾

زۀ ثنا د ربّ لیکم ، د ربّ زۀ ثنا خوان یمه
زۀ عامل په دین د ربّ ، هر ځائے په جهان یمه
دغه حمد لیکلے دے ، بره په لوح او قلم
دغه حمد لیکلے دے ، دلته کښې عرب عجم
کار مې د نیکانو دے ، په دې لار روان یمه
زۀ عامل په دین د ربّ ، هر ځائے په جهان یمه
زۀ بنده د ربّ یمه، صرف بندګي کوم
زۀ خو عبادت د ربّ ، دلته ابدي کوم
بل ته نظر نۀ کوم ، خبر له رحمٰن یمه
زۀ عامل په دین د ربّ ، هر ځائے په جهان یمه
کار زۀ د قرآن کوم ، چرته چې څۀ کار مې وی
تل د حق بیان کوم ، چرته چې ګفتار مې وی
داسې زۀ مؤمن یمه ، داسې مسلمان یمه
زۀ عامل په دین د ربّ ، هر ځائے په جهان یمه
کار مې د غیرت کړے هرچا ته معلومه ده
کار مې د عزت کړے هرچا ته معلومه ده
خبر له فائدے نه یم ، خبر له نقصان یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ عامل په دین د ربَ ، هرځائے په جهان یمه
دا مې د دنیا عمل ، وائي نن احمد په جار
دا مې په هر خوا عمل ، وائي نن احمد په جار
مل زۀ نیکانو یم ، مَل د حق بیان یمه
زۀ عامل په دین د ربَ ، هرځائے په جهان یمه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 5 ﴾

د لاندې زمکې د اوچت بره اسمان مالکه !
تا پیدا کړے لویه خدایه هرانسان مالکه !
شریك دے نشته لاشریکه په جهان کښې تۀ ئې
شریك دے نشته لاشریکه په اسمان کښې تۀ ئې
د ونو بوټو ، د ځنګل او بیابان مالکه !
تا پیدا کړے لویه خدایه هرانسان مالکه !
تا په یو کُن سره دنیا ده پیدا کړے ټوله
تا په یو کُن سره فضا ده پیدا کړے ټوله
اے د دنیا د هریو غر د هر میدان مالکه !
تا پیدا کړے لویه خدایه هرانسان مالکه !
هغه څۀ تۀ چې کول غواړے هغه کیږی دلته
دعا زمونږه ، تۀ چې غواړے پوره کیږی دلته
په ټولو خلقو په دنیا کښې مهربان مالکه !
تا پیدا کړے لویه خدایه هرانسان مالکه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـاتــه ورکــړے بـادشـاهـي تـا د دنيـا دلتــه ده
پــه چــا راوستــے غـريبـي تـا د دنيـا دلتــه ده
اے د دنيـــا د خــزانــو د هــر مــکـان مـالــکــه!
تـاپيـدا کـړے لـويـه خـدايـه هرانسان مالـکـه!
څـۀ چـې زمـا سـره دي هغـه ټول دي ستا خالقـه!
ربّــه! راکــړے تــا ده ژبــه او ويـنــا خـالـقــه!
وائــي احـمـد د ټـولـو خـلقـو د مـردان مـالـکـه!
تـاپيـدا کـړے لـويـه خـدايـه هرانسان مالـکـه!

## حمد باري تعالىٰ ﴿6﴾

چــــاتــــه خـــونـــد کـــوي ولاړه ټيټيـــدل ؟
تـــــاتــــــه خــــونــــد کـــوي ولاړه ټيټيـــدل
بـــل درنشتـــــه د غـــوښتـــلـــو د انســـــان
بـــل درنشتـــه د غـــوښتـــلـــو پــــه جهـــان
تـــانـــه خـــونـــد کـــوي غـــوښتــنـــه پـــه هـــردر
تـــانــــه خـــونـــد کـــوي غـــوښتــنـــه د بشـــر
ستـــا مـــحتـــاجـــه انســـانـــان پـــه هـــر قـــدم
ستـــا مـــحتـــاجـــه دے عـــرب او ټـــول عـــجـــم
ستــــا پــــه دربـــــانـــدي ولاړه عبـــــادت
ستــــا پــــه دربـــــانـــدي ولاړه ســعـــــادت
ستـــا نـــه غـــواړي فـــرښتـــے د پـــاس آســمـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا نه سوال کوی احمد هم د مردان
غواړي نُور درنه دنیا کښې د اسلام
ورله ورکړے رنګه! نُور دغه تمام

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 7 ﴾

هر طرف ته ستا د حُسن تماشے دي
پیدا کړے رنګ په رنګ تا نظارے دي
هر طرف ته ستا وجود دے اے موجوده
پیدا کړے د کمال تا سلسلے دي
ورسره په جهان مَل ئي لویه خدایه!
څوك چي دلته کښې بې یاره بې اسرے دي
د هر چا سره شریك په هر محل ئي
که څوك دوه دي مشورے لره یا درے دي
ستا د ذکر نه خالي یو مکان نشته
هر طرف ته په جهان دے تذکرے دي
ورله رنګ او حُسن تا رنګه! ورکړے
څومره دلته په دنیا چي ګلدستے دي
سلسلے تا د انوارو شورے کړي
جاري کړي تا د علم نور چینے دي
د احمد علي وینا تا خوره کړے
شائسته کړے ورله تا دغه جملے دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حمد باري تعالیٰ ﴿ 8 ﴾

بره آسمان د چا دے ؟
عرش لامکان د چا دے ؟
ټول موسمونه دلته
ښکلی رنګونه دلته
سپرلے خزان د چا دے ؟
دغه دوران د چا دے ؟
کانړي او غرونه دلته
لختی، سیندونه دلته
هریو میدان د چا دے ؟
هریو نشان د چا دے ؟
رڼا دا ستوری بره
ورته ټول ګوری بره
نمر عالیشان د چا دے ؟
ځائے د امان د چا دے ؟
ګل کښي خوشبو د چا ده ؟
هر ځائے کښي چي دا ښُکلا ده
هر ګلستان د چا دے ؟
دغه احسان د چا دے ؟
چا پیدا کړے زمکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ده راکړے زمکه

دا غټ جهان د چا دے ؟

دغه سامان د چا دے ؟

خوږه نامه د چا ده

دا ترانه د چا ده ؟

دغه قرآن د چا دے ؟

دغه فرقان د چا دے ؟

حق حکومت د چا دے ؟

هریو دولت د چا دے ؟

مونځ او أذان د چا دے ؟

روح عالیشان د چا دے ؟

دا د احمد کلے کور

د نیك او بد کلے کور

کلے مردان د چا دے ؟

دا پاکستان د چا دے ؟

دا د رحمٰن دی هرڅۀ

د پاك سبحان دی هرڅۀ

وایه بیان د چا دے ؟

دغه اعلان د چا دے ؟

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمد باري تعالیٰ ﴿ 9 ﴾

یو الله دے یو الله زمونږ د ټولو
یو الله مشکل کشا زمونږ د ټولو
یو الله مشکل کشا د انبیاء دے
یو الله مشکل کشا د اولیاء دے
یو ملګرے په هر خوا زمونږ د ټولو
یو الله دے یو الله زمونږ د ټولو
هر یو څیز ورته محتاج د دې جهان دے
ټول مخلوق ورته محتاج د پاس اسمان دے
داسې ربّ اوچت اعلیٰ زمونږ د ټولو
یو الله دے یو الله زمونږ د ټولو
نشته نشته ضرورت ئې یو مُشیر ته
نشته نشته ضرورت ئې یو وزیر ته
اَوري هر یو وینا زمونږ د ټولو
یو الله دے یو الله زمونږ د ټولو
مصیبت کښې بس هغه ستا پکار یږي
مشقت کښې بس هغه ستا پکار یږي
لرې کوي هر یو بلا زمونږ د ټولو
یو الله دے یو الله زمونږ د ټولو
ډیر سخي دے مهربانه په هر چا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے احمده ! ستا ملګرے په هر خوا دے
اَوری هر ځائے کښې دُعا زمونږ د تولو
یو الله دے یو الله زمونږ د تولو

حمد باري تعالىٰ ﴿ 10 ﴾

خدایه ! د خپل در نه جُدا مې نۀ کړے
په خپل غضب سره رُسوا مې نۀ کړے
ستا د رحمت نه لرے نۀ شم
په ګناه کار کښې مبتلا مې نۀ کړے
ستا د دربار نه چې څوك لرے تلی
ورسره یو ځائے په دنیا مې نۀ کړے
چا چې شریك ګرځولے تا سره دے
ربّه ! هغۀ سره اشنا مې نۀ کړے
ګند نه مال رے د دنیا کړے ربّه!
د نیغے لارے نه خطا مې نۀ کړے
ستا په رضا پسے روان یمه زۀ
د وفا ځائے کښې بے وفا مې نۀ کړے
راله عزت هر یو نعمت راکړے
ما حیادار کړے بے حیا مې نۀ کړے
زۀ یم احمد داعی یم ستا د لارے
هیره یو ځائے کښې حق وینا مې نۀ کړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمد باري تعالىٰ ﴿ 11 ﴾

اخلم نوم د خپل خالق پروردیګار
چې په کُن سره کوي هر خواته کار
یو دے یو په خپل وجود هغه مالك
شریك نهٔ لري هغهٔ غني غفار
نهٔ اولاد لري دنیا کښې زمونږ ربّ
نهٔ دنیا کښې په رشته دے د چا پلار
د هر څیز هغه خالق هغهٔ مالك دے
پیدا کړے ئې خزان سره بهار
نشته په ټرینه یو څیز په دې جهان
د هر څهٔ نه په جهان دے خبردار
مهربان په ټولو خلقو د جهان دے
د هر چا دغم ملګرے په هر لار
ټول محتاج دي د مولیٰ په دې جهان
بادشاهان او وزیران د هر دربار
څوك نادان دي څوك دانا ، وائي احمد
دا تقسیم دے د رحمٰن ، رحیم ، ستار

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 12 ﴾

دغه زمکه پاس اسمان زمونږ د ربّ دے
بره عرش او لامکان زمونږ د ربّ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يــخــنــې او ګــرمــې هــغــه مــالك دى
هــر سپــرلــې هــريــو خــزان زمــونــږ درب دى
څــوك دى څــوك د دې ژونــدون زمــونــږ مــالك؟
دغــه وخــت دغــه دوران زمــونــږ درب دى
څــوك مــالك د دنــو بــوتــو پــه جهــان دى؟
هــر ځــنــګــل او بيــابــان زمــونــږ درب دى
د قــرآن پــه شــان كتــاب پــه جهــان نشتــه
حــق بيــان او حــق اعــلان زمــونــږ درب دى
د هــر څــهٔ هــغــه مــالك هــغــه خــالق دى
د احــمــد كــلــې مــردان زمــونــږ درب دى

حمد باري تعالىٰ ﴿ 13 ﴾

بــره شتــه پــه هــر اســمــان كښــې رب زمــا
شتــه هــر ځــائــې پــه هــر مــكــان كښې رب زمــا
پــه هــر ځــائــې كښــې هــر طرف تــه دې موجود
يــو مــعبــود زمــونــږ د ټــولــو يــو مسجــود
يــاد دې دغــه شــان قــرآن كښــې رب زمــا
شتــه هــر ځــائــې پــه هــر مــكــان كښې رب زمــا
نــهٔ والــد دې پــه دنيــا كښــې نــهٔ ولــد
د هــر چــا كــوى هــر خــوا تــه تــل مــدد
پــكــاريــږى هــر دوران كښــې رب زمــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته هرځائے په هر مکان کښې ربّ زما

شۀ خبر له ټول مخلوق نه د جهان

هريو څيز باندې نظر لرى هر آن

شته ځنګل کښې بيابان کښې ربّ زما

شته هرځائے په هر مکان کښې ربّ زما

مونږ ئې مونځ کښې يادوو په هر مقام

نوم اخستے ئې دنيا کښې خاص او عام

ياد دے ياد په هر آذان کښې ربّ زما

شته هرځائے په هر مکان کښې ربّ زما

په هرځائے کښې په هرلار زمونږ مَل دے

اے احمده! حق مالك د هر محل دے

شته سپرلى کښې په خزان کښې ربّ زما

شته هرځائے په هر مکان کښې ربّ زما

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 14 ﴾

آسمان نۀ وو رنَه ! تۀ وے

جهان نۀ وو رنَه ! تۀ وے

يو څيز نه وو په جهان کښې

انسان نۀ وو رنَه ! تۀ وے

نۀ سپرلے ، ګرمى يخنى وه

خزان نۀ وو رنَه ! تۀ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــــــــهٔ يــــو ګـــــل وونــــــــهٔ خــــوشبـــــو وه
دوران نـــــــــهٔ وورنَــــــــــــه! تــــــــــــهٔ وې
نـــــــهٔ مــــــونـــــځـــــونــــــــه عبـــــــادت وو
أذان نــــــــــــهٔ وورنَــــــــــــه! تــــــــــهٔ وې
نــــــــــهٔ احـــــــمــــــــد وونـــــــــهٔ قـــلـــــم وو
بيــــــــــان نــــــــهٔ وورنَــــــــه! تــــــــهٔ وې

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 15 ﴾

يــو دے يــو الـلّـــه پـــه ذات زمـونـــږه ربَ دے
تــل مـــالك د كُـل صـفـــات زمـونـــږه ربَ دے
لانــدے زمـكـــه بـره ښـكـلـې أسـمـانـونــه
پيـــدا كــړے كــائـنــات زمــونـــږه ربَ دے
دغـــه غـــرونــــه ،دريـــابـــونـــه د هـغــــه دي
يـــو مـــالك د مـخـلـوقـــات زمـونـــږه ربَ دے
مـونـږ تـري غـواړو ،زمـونـږ هرځـائـے هغـه مَل دے
حـق قــاضـــې د ټـول حــاجــات زمـونــږه ربَ دے
نشتــــه نشتـــه بـل مـعبـود تـري پـــه جهـــان
مستـــحــــق د عبـــــادات زمـــــونــــږه ربَ دے
عــقــل ،نــقــل ســره مــونـــږ دے پيـــژنـدلـے
ښــــهٔ كــــامــل پــــه كـمـــالات زمـونــږه ربَ دے
مـــرګ او ژونـد دلـتــه د چــا دي پــه قبـضـه كښي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق مالك د مرګ حیات زمونږه رب دے

په ذره ذره نظر ساتي احمده!

ښۀ اګاه په حرکات زمونږه رب دے

## حمد باري تعالیٰ ﴿16﴾

مفهوم دے د توحید چي يو الله دے يو الله دے

ګواه په دي خبره مي درب کلام ُ الله دے

بنیاد د دین اسلام د پاره دغه حق وینا ده

بنیاد ښکلی نظام دپاره دغه حق وینا ده

ښودلے دا مفهوم مونږ ته دنیا کښي اولیاء دے

مفهوم دے د توحید چي يو الله دے يو الله دے

شریك ورسره نشته دے په زمکه او آسمان کښي

شریك ورسره نشته دے په دغي تول جهان کښي

شریك په جهان نۀ لري تنها هغه تنها دے

مفهوم دے د توحید چي يو الله دے يو الله دے

محشر لره دنیا کښي بهترینه ښۀ توښه ده

اعلیٰ په عقیدو کښي د دنیا ښۀ عقیده ده

بیان دغه واضحه ذکر کړے علماء دے

مفهوم دے د توحید چي يو الله دے يو الله دے

اسلام چي ورته وائی هم د دي نه شورو کیږي

دا زړونه په دنیا کښي هم په دي باندي پاکیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمدعلي بيان دغه ليكلي بنۀ صفا دے
مفهوم دے د توحيد چي يو الله دے يو الله دے

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 17 ﴾

ظلم کوے تۀ د خپل ځان سره
ولے کړے شرك د پاك سبحان سره
يو دے بس يو په ټول جهان هغه دے
موجود هر ځائے په هر مکان هغه دے
ولے کړے شرك د خپل رحمٰن سره
ظلم کوے تۀ د خپل ځان سره
ورسره نشته دے شريك په ذات کښي
ورسره نشته دے شريك صفات کښي
تا شريك کړے مهربان سره
ظلم کوے تۀ د خپل ځان سره
شرك کښي نقصان، شرك کښي تاوان د ټولو
شرك کښي تاوان په دي جهان د ټولو
ولے کړے مينه د نقصان سره
ظلم کوے تۀ د خپل ځان سره
شرك کښي تاوان، شرك کښي ذلت پروت دے
شرك کښي شيطان او شرارت پروت دے
ولے کوے مينه شيطان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظلم کوے تهٔ د خپل ځان سره
وائی احمد تانه قرآن هیر شوے
تانه په دي سره رحمٰن هیر شوے
مینه کوے غلط بیان سره
ظلم کوے تهٔ د خپل ځان سره

## حمد باری تعالیٰ ﴿ 18 ﴾

مونږ د ټول جهان د پاره یو مشکل کشا منو
صرف یو الله منو، صرف یو الله منو
غواړو د هغهٔ نه، د هغه نه ټول جهان غواړي
ټول مخلوق تري بره د دنیا په هر اسمان غواړي
یو د هر یو لارے دلته کښي مونږ رهنما منو
صرف یو الله منو، صرف یو الله منو
هغهٔ په هر څهٔ خبر دے، هغه د هرچا خبر
هغهٔ په دنیا کښي دے صحیح د دي دنیا خبر
یو پالونکے مونږه هر طرف ته په دنیا منو
صرف یو الله منو، صرف یو الله منو
پټ ترینه څهٔ نهٔ دی هر یو څیز ورته ښکاره دلته
هغهٔ پیدا کړے د دنیا هر نظاره دلته
هغه ذات دنیا کښي مونږ د ټولو نه بالا منو
صرف یو الله منو، صرف یو الله منو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هريو مصيبت كښي دے ملګرے په جهان زموني
هريو مشقت كښي دے ملګرے په هرآن زموني
هغه حقيقت كښي هرېشر له مقتدا منو
صرف يو اللّٰه منو ، صرف يو اللّٰه منو
مونږ ورته محتاجه يُو ، محتاج ورته احمدعلي
دغه رنګ محتاج ورته دے هر نبي او هر ولي
مونږه ئي قرآن په دې دنيا حقه وينا منو
صرف يو اللّٰه منو ، صرف يو اللّٰه منو

حمد باري تعالىٰ ﴿ 19 ﴾

ذكر هر ساعت دلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه كوه
كار د پاك اللّٰه د رضا دلته په هر خوا كوه
دغه هر سحر د پاره ، دغه هر ماښام لره
دغه هريو كور لره دے ، دغه هر امام لره
هريوه وينا چي كوے حقه او رښتيا كوه
ذكر هر ساعت دلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه كوه
كار د اولياء دغه دے كار عالمانو دے
كار د انبياء دغه دے كار د بزرګانو دے
سوچ كوه او فام كوه وينا هره صفا كوه
ذكر هر ساعت دلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه كوه
هر چا په دې كار باندې فلاح دلته موندلے ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا په دي لار باندي فلاح دلته موندلے ده
راشه په هر كار كښي اقتدا د مصطفیٰ ﷺ كوه
ذكر هر ساعت دلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه كوه
ښـۀ دا وظيفه ده هيره نۀ كړے په دنيا كښي دا
ښكلے دا نسخه ده هيره نۀ كړے په دنيا كښي دا
راشه په هر كار كښي د خپل ربّ سره وفا كوه
ذكر هر ساعت دلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه كوه
نور كارونه پريږده ، حق عمل دا برابر كوه
اے احمده ! هير نۀ كړے عمل دا په هر در كوه
كار دا په دنيا كښي هميشه نور درڼا كوه
ذكر هر ساعت دلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه كوه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 20 ﴾

ديو الله نه غواړه
مۀ د بل چا نه غواړه
هر يو سحر ماښام
دلته په هر مقام
د خپل مولیٰ نه غواړه
ديو الله نه غواړه
غواړي نبيان ترينه ټول
غواړي وليان ترينه ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشـــــکـــــل کشـــــــا نــــــــه غـــواړه
ديــــــو الـــــلٰـــــــه نـــــــــه غــــواړه
دهــــــر ســــلــــطــــان ســـلـــطـــان دے
هـــــغــــــــــه رحيـــــم رحــــمٰـــــن دے
هـــــغــــــي بـــــــالا نـــــــــه غــــواړه
ديــــــو الـــــلٰـــــــه نـــــــــه غــــواړه
ورتــــــــــــــــه ژړا کـــــــوی خــــــونـــــد
تــــــريـــــنـــــــــه دُعــــــا کـــوی خـــونـــد
حـــــق رهـــــنـــمـــــــا نـــــــــه غــــواړه
ديــــــو الـــــلٰـــــــه نـــــــــه غــــواړه
احـــــمــــد مـــحـتـــــاج د هــــغـــــــۀ
پـــــــــــه هــــرخيـــــزراج دهــــغـــــــۀ
داســـــــي بــــــاچـــــــا نــــــــه غــــواړه
ديــــــو الـــــلٰـــــــه نـــــــــه غــــواړه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 21 ﴾

رَبـــه! ښـکـــارے هـرطـرف تـــه پــه طلوع کېښي
يـــادوُم تـــا پــــه سـجـدواو پـــه رکـوع کېښــي
ابتــــدائـــــي داُصــــولـــو پــــــه دنيــــا کېښـــي
ابتـــدا کېښــي ئــي راغـلـے پــه فـروع کېښـي
تـــانـــــه غـــواړي د جهــــان دغــــه مـخـلـوق تـول

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــواړي تــانـــه پـــه خشــوع او خــضــوع کښــي
د هــرڅيــز پـــه انتهـــا کښـي تـــهٔ مـوجـودئـي
ويـنـم دلتـــه کښــي هــرڅيــز درتــه رجـوع کښــي
احــمــدوائـــى تــا د مــرګ نيتــه دە ايــښــے
نشتـــه نشتـــه دے څـــهٔ شك د دي وقـوع کښـي

حمد باري تعالىٰ ﴿ 22 ﴾

حــمـدونـــه د مـولـــىٰ دى تـول ګـلـونـــه د جهــان
قسـم دے مـلـغـلــرے دى لـعـلـونـــه د جهـــان
هـرڅيــز دے ثـنـا خـوان د پـاك اللّــه پـه هر طرف
قسـم دے ثـنــاخـوان دى تـول وختـونـــه دجهــان
شــاهــان د زمــانـے ئـي تـول پـه جمـع دى محتـاج
جـوړ کــړى هـغـــه ذات دى مـحـلـونـــه د جهــان
دا زمــکـــه د هـغـــهٔ پــه امـر دلتـــه کښـي پيـدا ده
مـولـــىٰ تـول پيـدا کــړى آسـمــانـونـــه دجهــان
خـزان دے کـهٔ سپـرلـے دے عـجيبـه شـکلـے منظر
مـولـــىٰ تـول پيـدا کــړى مـوسـمـونـــه د جهـــان
هـرڅيــز لــه دے مـولـىٰ دلتــه جُدا صـورت ورکړے
پيــدا دى پـــه دنيـــا کښـي ډيـر رنـګـونـــه دجهــان
قـطـره، قـطـره ئـي دلتــه پـه دنيـا ده يـو څـائـے کړے
جـوړ کــړى تــري مـولـىٰ دى بـارانـونـــه د جهــان
مُـحسـن زمـونــږه د تـولـو دے احـمـده ! هغـه ذات

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیشمیره د مولیٰ دی نعمتونه د جهان

## حمد باری تعالیٰ ﴿ 21 ﴾

مالــه کافی حق اَللّه
حَسْبِیْ رَبِّیْ جَلَّ اللّه
نۀ غوارم د غَیْرُ اللّه
حَسْبِیْ رَبِّیْ جَلَّ اللّه

یو دے یو مولیٰ زمونږ
حق ده دا وینا زمونږ
نشته نشته بل مولیٰ
حَسْبِیْ رَبِّیْ جَلَّ اللّه

نشته مې په زړۀ کښې بل
یَو زمونږ مولیٰ دے خپل
غواړو ترینه هر دُعا
حَسْبِیْ رَبِّیْ جَلَّ اللّه

ډیر په مونږ دے مهربان
یو مالك د ټول جهان
یو دے حق مشکل کشا
حَسْبِیْ رَبِّیْ جَلَّ اللّه

غواړي تري احمدعلی
دلته کښې هر یو ولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



داویـــــنـــــا ده بنـــــــهٔ صـــفــــا
حَسْبِــــــیْ رَبِّــــیْ جَــلَّ الــــلّٰـــــــه

## حمد باری تعالیٰ ﴿ 22 ﴾

خـــونـــد کـــوی مــــزه ویــنـــا
لَا اِلٰــــــــــهَ اِلَّا الـــــلّٰــــــــــه
وایـــــــه، وایـــــــه، هــــــر خــــوا دا
لَا اِلٰــــــــــهَ اِلَّا الـــــلّٰــــــــــه
دا عـــــــلاج د هـــــــــــربشــــــــر
دا عـــــــلاج د هـــــــــــرافســــــــر
ده د هــــــــرچـــــــــا بنــــــــهٔ دوا
لَا اِلٰــــــــــهَ اِلَّا الـــــلّٰــــــــــه
دا ســــکـــون د هــــــرانســـــــان
دا ســــکـــون د مســــلـــمــــان
دا بیـــــــــــان د اولیـــــــــــاء
لَا اِلٰــــــــــهَ اِلَّا الـــــلّٰــــــــــه
دا دنیــــــا کښـــي لــــوئــــې دولـــــت
دا دلتــــه کښـــي لـــوئـــې نــعــمــت
خـــونـــد مـــــزه لـــــری جُــــدا
لَا اِلٰــــــــــهَ اِلَّا الـــــلّٰــــــــــه
دا عـــــــلاج د هـــــــــریـــــو غـــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــــورزنـــــــا د هــــــــرتــــــورتــــم
نـــــورزنــــــــا ده او ښـــــــــکـــــلا
لَا اِلٰـــــــــــهَ اِلَّا الــــــــلّٰـــــــــــه
غـــــــوره او اعــــــلـــــــــیٰ کـــــــلام
وائـــــــی تــــــل احـــــمــــــد مـــــدام
ختـــــمـــــوی هـــــريــــو خـــــطـــــا
لَا اِلٰـــــــــــهَ اِلَّا الــــــــلّٰـــــــــــه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 23 ﴾

یَـــو تــــــهٔ ربَـــــه ! پــــــه خپــــل ذات ئـــــي
حـــق مـــــــالك د کـــــائـــنـــــات ئـــــي
تـــــــهٔ زمــــونـــــــږه نـــــګهبـــــان ئـــــي
تـــــهٔ پـــــــه مـــونـــــږه مهـــــربــــان ئـــــي
تـــــــهٔ رازق د مـــــخــــلـــوقـــــات ئـــــي
یَـــو تــــــهٔ ربَـــــه ! پــــــه خپــــل ذات ئـــــي
آســـــمـــــــــان تـــــــــا دے اُودرولــــــــے
انســـــــــــان تـــــــــا دے اُودرولــــــــے
حـــق مـــــــالك د مــــوجــــودات ئـــــي
یَـــو تــــــهٔ ربَـــــه ! پــــــه خپــــل ذات ئـــــي
ستـــــا مـــحتــــاجـــــه مـــــالــــداران دی
وزيــــــران دی کـــــــهٔ شــــــاهــــــان دی
حـــق لائـــــق د تـــول صـــــفـــــات ئـــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَو تة رَبه ! په خپل ذات ئي
مونږه تَول ستا ثنا خوان يو
مونږ تَابع ستا د فرمان يُو
حق لائق د عبادات ئي
يَو تة رَبه ! په خپل ذات ئي
ستا نه غواړو، تَا ته ژاړو
مولىٰ ! بل به چا نه اُغواړو؟
بنة آگاه د تَول حالات ئي
يَو تة رَبه ! په خپل ذات ئي
رهنما د نيك او بد ئي
لَمْ يَلِدْ ئي، لَمْ يُوْلَدْ ئي
بنة كامل په كمالات ئي
يَو تة رَبه ! په خپل ذات ئي
تَة رحمن ئي تَة رحيم ئي
احمد وائي بنة كريم ئي
حل ز مونږ د مشكلات ئي
يَو تة رَبه ! په خپل ذات ئي

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 24 ﴾

حق معبود د مخلوقات ئي
داسي ذات ئي داسي ذات ئي
ستا نه غواړی اولياء تَول

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان دا په دنیا ټول
حق خالق د برکات ئي
داسي ذات ئي داسي ذات ئي
هر بشر درته ولاړ دے
هر افسر درته ولاړ دے
داسې دلته په صفات ئي
داسي ذات ئي داسي ذات ئي
تاته هر څۀ په سجده دي
محتاج ستا ذرّه ذرّه دي
داسې ذات د کمالات ئي
داسي ذات ئي داسي ذات ئي
هر څيز تاته مخامخ دے
ستا مخلوق دا ګرم يخ دے
هم مالك تۀ د جنات ئي
داسي ذات ئي داسي ذات ئي
احمد لاس درته نيولے
غواړي تاته غلے غلے
حق جواب د سوالات ئي
داسي ذات ئي داسي ذات ئي

## حمد باري تعالیٰ ﴿25﴾

دا بره جوړ چې دا آسمان تصوير دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



جــوړ کـــړے دغـــه يــو رحـمٰــن تــصــويــر دے
دلاتـــدې زمـــکـــے بيـــاد هــــريـــو کــوټ
جــوړ کـــړے ربّ د هـــر مـــکـــان تــصــويـــر دے
هـــريـــو مـــوســم دلتـــه جــدا او ښــکــلـــے
خـــالـــق جــوړ کـــړے د خـــزان تــصــويـــر دے
سپـــرلـــے دنيـــا کښـــې بُــلبــلان ورســـره
جــوړ کـــړے ربّ د ګـــلستـــان تــصــويـــر دے
ذرّه ذرّه پــــه هـــر طـــرف دلتـــه کښـــې
جــوړ کـــړے ربّ د ټـــول جهـــان تــصــويـــر دے
څـــوك ښـــائستـــهٔ ښــکـــلے انســان د جهـــان
دغــه جــوړ کـــړے حـق سبــحـــان تــصــويـــر دے
خـــالـــق زمـــا ، زهٔ يـــم احـــمـــد د مـــردان
هــغـــهٔ جــوړ کـــړے د مـــردان تــصــويـــر دے

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 26 ﴾

حـــق الــلّـــه يـــادوه ، يـــو الــلّـــه يـــادوه
څـــهٔ چـــې وی مســـئلـــه ، ربّ مـــولـــیٰ يـــادوه
چـــې د ټـــولـــے دنيـــا ، يـــو دے مشـــکـــل کشـــا
د هــــر څــــهٔ نــــه خبـــر ، د دنيـــا لـــه هـــر چـــا
هــغــه ذات مـصيبـــت کښـــې بيـــا بيـــا يـــادوه
حـــق الــلّـــه يـــادوه ، يـــو الــلّـــه يـــادوه
نــــهٔ د چـــا دے مـــحتـــاج ، ورتـــه وائـــی صـــمـــد

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــــهٔ دنیـــا کښـــې والــد ، نــهٔ دنیــا کښـــې ولــد
ذات اعـــلـــیٰ يـــادوه ، پــــــه هــــر خـــوا يــــادوه
حـــق الــــلّـــــه يـــــادوه ، يـــو الــــلّـــــه يــــادوه
هــــر خبـــر نــــــه خبـــر ، ددنيـــــا د هـــــر در
آوري دلتـــــه زمـــونـــږ ، کـــوي مـــونـــږ تـــه نـظــر
مــــدد ګــــــارد هــــــرچـــا پــــــه دنيــــا يـــــادوه
حـــق الــــلّـــــه يـــــادوه ، يـــو الــــلّـــــه يــــادوه
خــلــقـــه ! واورې زمـــا ، زهٔ احـمـد ئـي بـنـده
هـــر طـرف تـــه دلتــه کښـــې نيك او بد ئـي بنده
داســـــې ذات د جهـــــان ښــــهٔ صـــفـــا يــــادوه
حـــق الــــلّـــــه يـــــادوه ، يـــو الــــلّـــــه يــــادوه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 27 ﴾

خـــونــد کـــوي چـــې ســـوال ديـــو الـــلّــه نـــه وي
نــــهٔ دي روا ســـوال چـــې د بـــل چـــا نــــه وي
کـــلــــه پــــه دنيـــا کښـــې مــصيبـــت چـــې وي
کـــلــــه پــــه دنيـــا کښـــې مشــقـــت چـــې وي
نــــهٔ دی روا ســــوال چـــې اولـيــــاء نـــــه وي
نــــهٔ دی روا ســـوال چـــې د بـــل چـــا نــــه وي
هـــر ځــائـــې د دنيـــا پـــه هـــر مـقـام بـانـدې
غـــــواړه پـــــــه ادب او احتـــــرام بـــــانـــدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند کوي توبه چي له خطا نه وي
نه دی روا سوال چي د بل چا نه وي
هر چا سره مل په هر مقام هغه
غوره لري هر خوا هر کلام هغه
چا سره چي دغه نور رنا نهٔ وي
نهٔ دی روا سوال چي د بل چا نه وي
خوند کوي نيکی په هر مقام باندي
غواړه د هغه نه ګام په ګام باندي
خوند کوي توبه چي د چا غلا نه وي
نهٔ دی روا سوال چي د بل چا نه وي
ذکر ئي احمد علی مدام کوي
هر ځائے کښي د نوم ئي احترام کوي
تا کهٔ اوريدلی له هر خوا نه وي
نهٔ دی روا سوال چي د بل چا نه وي

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 28 ﴾

غواړي توول لتا نه اے پروردیګاره
غواړي نيغه لاره ، د خپل ځان د پاره
څوك چي مصيبت کښي دي
يا په مشقت کښي دي
غواړي آساني درنه ، هر ځائے په هر لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــواړي نيــغــــه لاره ، د خپــل ځــــان د پـــاره
خـــــلـــــق مـــــحبـــــت غـــــواړي
ستـــــا نـــــه ستـــــا رحــــمـــت غــــواړي
اے لـــه هـــر بشـــره پــه دنيـــا کښـــې خبـــرداره
غــواړي نيــغــــه لاره ، د خپــل ځــــان د پـــاره
ستـــــانـــــــه کـــوي ســـوال دلتـــــــــه
د ښـــکـــــلـــــی جـــمـــــال دلتـــــــــه
زمـــکـــــه د دنيـــا دلتـــــه ستـــا ده تـــابـعـداره
غــواړي نيــغــــه لاره ، د خپــل ځــــان د پـــاره
تـــــهٔ ئـــي لـــــه هـــر چـــا قـــوي
ستـــــانـــــــه هـــرخـــوك ســـوال کـــوي
بـد د دي جهـان کـهٔ د مے يا خوك کـهٔ د مے ديـنداره
غــواړي نيــغــــه لاره ، د خپــل ځــــان د پـــاره
زهٔ هـــم ستـــــا بـــنـــــده يـــمــــــه
پـــــه خـــطـــــا ګـــنـــده يـــمــــــه
اُوبـــخـــه احـــمـــدعـــلـــی ، اے غـــنـــی غـــفـــاره
غــواړي نيــغــــه لاره ، د خپــل ځــــان د پـــاره

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 29 ﴾

(د اُردو حمد نه ترجمه يا مفهوم )

حَسۡبِـــــــیۡ رَبِّــــــیۡ جَـــــلَّ الــــلّٰـــــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَا فِيْ قَلْبِيْ غَيْرُ اللّٰه
نُوْرُ مُحَمَّدْ صَلَّى اللّٰه
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

ستا له مخه شوه رڼا
شکلے شوه بنائسته فضا
هر ځائے شوه بس یو صدا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

لاړو نبی ﷺ له ابو جهل
بیا ئي نبي ﷺ ته اووئیل
ته کهٔ نبی ئي په رښتیا
لاس کښي دی وایه څهٔ زما

پاك نبی ﷺ گویا شولو
رحم د پاك اللّٰه شولو
کاڼي د لاس شو ټول گویا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

گوره بلالؓ ته د حبشے دے
په نبی ﷺ ډیر گران هغه
گران په هر عاشق هغه
گران په هر انسان هغه
ظلم شوے په دوی ډیر ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانو نه وو لاندے ګیر
بیائي هم وه دا وینا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه
خور ته ګویا شو حضرت عمرؓ
وایه تهٔ وایه څهٔ کار دے کوو
مانه مخکښي پټ پټ تا
دلته څهٔ ګفتار دے کوو
خورئي شورو کړهٔ کلام اللّٰه
لاړلو غوږ ته آواز چي دا
زړهٔ نه آواز شولو داسي جُدا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه
څومره چي دلته کښي انبیاء وو
دوی خپل قوم ته ګویا وو
امن کهٔ غواړے جهنم نه
امن کهٔ غواړے د هر غم نه
تاسو کهٔ غواړے د ربَ رضا
جنت کهٔ خوښ وی، دلته د چا
وائے د زړهٔ نه دلته بیا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه
دا د نفع سودا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تـو بنـه د عقبیٰ ده

ښکاري وره ، دا کلیمه ده

کفر باندي يو دبدبه ده

محشر بیا چي میزان وي

زمکے ، بره کهٔ آسمان وي

تول کښي درنه به وي ، ښه صفا

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 30 ﴾

ښکلے ده ، ښائسته کلیمه

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

تن ، د هريو د رښُکلا

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

هر يو کور کښي وو تورتم

شر ، شرارت ، وو هر غم

نور نهٔ وو په يو مقام

تُور وو د هر چا کلام

رحم وکرم شو د مولیٰ

شوه خائستهٔ توله فضا

حق راغے د حق وينا

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور په دنيا عام شولو
نور په هر يو ګام شولو
هر ځائے کښې اختر شولو
هر ځائے کښې سحر شولو
د وحدت شوه يو صدا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه
عام شوله دنيا کښې رڼا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه
ښکلے هر يو ښار شولو
ښکلے هر دربار شولو
ښکلے ټول عجم شولو
ښکلے ټول عالم شولو
عام شوه چې کليمه اعلیٰ
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه
عام چې شوه په دې دنيا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه
دا بنياد هر يو کور
دا رڼا د هر يو ګور
دا احمد ګفتار ښکلے
دا بيان هر بار ښکلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل حُسن زما او ستا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه
ده د هر رنځور دوا
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 31 ﴾

ربَه ! تهٔ موجود ئې بره لويو اسمانو نو کښې
مونږ سره موجود ئې د دنيا په محلونو کښې
هيڅ درنه پټ نشته ، په هر څيز باندې خبر لرے
تاته وی معلوم چې څهٔ راځی زمونږه زړونو کښې
تا ده پيدا کړے دنيانو سلسله غوره
خير دے راليږے مونږ له تا په کتابونو کښې
نور تا پيدا کړے مونږ د پاره په هر لاره دے
مونږ سره ملگرے ئې زمونږه په کورونو کښې
مونږه بنديگان يُو ستا ، هم تاته سجدے کوو
تانه کوو سوال چې کله راشی سخت وختونو کښې
هر يو قول بهٔ کلك لرے دنيا کښې اے مالکه ! تهٔ
دا مضمون ليدلے د قرآن مې اياتونو کښې
زهٔ احمد په يو اللّٰه بهٔ کلك دلته ايمان لرم
دغه نقل کومه ، بيانومه په شعرونو کښې

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمد باري تعالیٰ ﴿ 32 ﴾

غواړو درنه غواړو ټول په جمع سعادت ربّه !
راکړې رالـه راکړې په دنيا کښې هدايت ربّه !
تا سره کُنجې د هدايت ټولې په لاس کښې دي
مونږه محروم مۀ کړې په دنيا د دې نعمت ربّه !
تا سره مولیٰ د هر بشر د ژوند وختونه دي
تا دې پيدا کړې د عزت سره ذلت ربّه !
غوره له چانه محمد ﷺ دې کړځولې دې
هر چا باندې دلته تا ورکړې فضيلت ربّه !
تا دي شورو کړې سلسلې د ولايت دلته
تا دې تقسيم کړې د دنيا د در دولت ربّه !
ستا د نوم اثر دې چې دوى يو بل سره مينه کړي
عام چې په دنيا دلته دې مينه محبت ربّه !
غواړي ټول لتا نه دا احمد علي په دې شعر
ورکړې ورله هر ساعت د سر سيورې رحمت ربّه !

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 33 ﴾

مصيبت کښې هر وخت يو الله ياد وم
خوشحالو کښې الله په هر خوا ياد وم
ما ته هر ځائې کوى دلته کښې چې نظر
رانه دلته کښې دې هر ساعت ښۀ خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربَ خبیـــر او بــصیـــر بنـــهٔ صـفـــا یـــادوم
مــصیبــت کښـــې هــر وخـــت یـو اللّــــه یـادوم
لاثـــانـــی پـــه صـفـــت یـــو اللّــــه یـو اللّـــه
لـــری هـــریـــو دولـــت یـــو اللّـــــه یـــو اللّــــــه
هـــرســـاعـــت پـــه دنیـــا دا ویـــنـــا یـــادوم
مــصیبــت کښـــې هــر وخـــت یـو اللّــــه یـادوم
ربَ زمـــونـــږه هـغـــــه ، دآسـمـــان دے مـــالك
د دنیـــــا د هـــــر درد جهـــــان دے مـــــالك
هـــغـــــه ذات پـــه دنیـــا لـــه پـخـــوا یـــادوم
مــصیبــت کښـــې هــر وخـــت یـو اللّــــه یـادوم
مهـــربـــان دے پـــه مـونـــږ اے احـمـده ! هـغــه
نـــګهبـــان دے پـــه مـونـــږ اے احـمـده ! هـغــه
خپـــل خـــــالـــق یـــادوم ، رهـــنـــمـــا یـــادوم
مــصیبــت کښـــې هــر وخـــت یـو اللّــــه یـادوم

حمد باری تعالیٰ ﴿ 34 ﴾

مـــالـــکـــه دجهـــان ! دلتـــه د چـــا نـــه اُغـــواړم ؟
لازم پـــه مـــا دی دلتـــه چـــې زهٔ تـــا نـــه اُغـــواړم
تـــابـــع دی ستـــا د حـکـــم پـــه دنیـــا کښې مُرسلان
مـحتـــاجـــه ستـــا د دردی د دنیـــا پـــه هـــر مکـــان
نـــو خـــنـــګـــه مـصیبـت کښـې انبیـاء نـــه اُغـواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازم پـــه مــا دی دلتـــه چـــې زۀ تـــا نـــه اُغـــوارم
عـلاج د هــرولــی پــه دې جهان کښـې تـا دے کړے
ستـا درتـــه ئـي هــروخت د دې جهان فـرياد دروړے
نــو څــنـګــه د مـحتــاجــه اوليــاء نــه اغــوارم
لازم پـــه مــا دی دلتـــه چـــې زۀ تـــا نـــه اُغـــوارم
ستــا نــوم ســره دنيـا کښـې هـر بشــر کوی عـلاج
دنيـا کښـې د دنيـا دا خلق ټول دی ستـا مـحتـاج
نــوڅـنـګـــه پـــه دنيـا کښــې د دنيـا نــه اُغوارم
لازم پـــه مــا دی دلتـــه چـــې زۀ تـــا نـــه اُغـــوارم
پيـــران درنـــه ســوالــونـــه پـــه دنيـا بـاندې کـوی
مـولـیٰ ! د هـر قـوی نـه پـه دنيـا کښې ئې قـوی
نــو څــنـګــه تــا زۀ پــريـــږم بـــے وفـا نــه اغــوارم
لازم پـــه مــا دی دلتـــه چـــې زۀ تـــا نـــه اُغـــوارم
بـنـده دے يـم احـمـدعلـی تـل تـانــه کـوم سـوال
مولیٰ ! زمـا نـصيب کړے پـه هـر در بـاندې جمال
خپــل زړۀ راتـــه وئيـلــی د مـولــیٰ نـــه اغــوارم
لازم پـــه مــا دی دلتـــه چـــې زۀ تـــا نـــه اُغـــوارم

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 35 ﴾

اے د دنيـا مــالـکـــه، اے د هــر څـا مــالـکــه !
غــوارم لـتــانــه دلتـــه، زۀ پــه هــر خـوا مـالـکــه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـانـه څـه پټ نشتـه دے ، بـصيردے ستا صفت
لــه هــرخبـر خبـرئـي ، خبيـردے ستـا صـفـت
د عــرش اوفــرش مـالــكـه! ، زما اللّٰـه مالـكـه!
غــوارم لتــانـــه دلتـــه ، زۀ پـــه هــرخوا مـالــكــه!
د ټول مـخلوق مـالـكـه! تـا نـه سـوالونـه كووم
تــاتـــه مـولـىٰ دلتـــه كنبـــي ، تـــل فـريـادونـه كوُم
غــوارم لتـانــه هــرځائـے ، پـه دي دنيا مالـكـه!
غــوارم لتــانـــه دلتـــه ، زۀ پـــه هــرخوا مـالــكــه!
د هـــريــو څيــز دلتـــه كنبـــي ، خــزانـے تـاسـره دى
ټـولــے كُـنـجـانــے دلتـــه ، زمـا اللّٰـــه سـره دى
تـورتـم دے تـــا راوستـــے ، د نـوررنـا مـــالــكـــه!
غــوارم لتــانـــه دلتـــه ، زۀ پـــه هــرخوا مـالــكــه!
رازق زمـونــږ د ټولـو ، پــه هــر مـكـان كنبـي تـۀ ئـي
پـه لامـكـا ن كنبـي تـۀ ئـي ، پـه هر اسمان كنبي تۀ ئي
د قبـلـيــدو د انسـانــ ، د هـــر دُعـــا مـــالــكـــه!
غــوارم لتــانـــه دلتـــه ، زۀ پـــه هــرخوا مـالــكــه!
ډيــر عـــاجــزے ســره زۀ ، تـــانـــه هـر سوال كـوومـه
سـوال د هـــر خيـــر لتـــانـــه ، د هـــر كـمـال كـوومـه
د ونـو بـوټـو ټـولـو ، د پـــاس د فـضـا مـــالـكـــه!
غــوارم لتــانـــه دلتـــه ، زۀ پـــه هــرخوا مـالــكــه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال د مولىٰ نه دلته تل انبياء کړے دے
سوال د مولىٰ نه دلته تل اولياء کړے دے
د هر اندام مالکه ، د هروينا مالکه!
غواړم لتانه دلته ، زۀ په هرخوا مالکه!
تانه غوښتل په جهان ، غوره د هر څۀ نه دي
تانه غوښتل د انسان ، غوره د هرڅۀ نه دي
د هريو خير مالکه! د هربَلا مالکه
غواړم لتانه دلته ، زۀ په هرخوا مالکه!
مالك د ټولو خلقو ، د ټول مردان د خلقو
تۀ ئي مالك د احمد ، د هر بيان د خلقو
د هر نادان مالکه! د هر دانا مالکه
غواړم لتانه دلته ، زۀ په هرخوا مالکه!

حمد باري تعالىٰ ﴿ 36 ﴾

په دنيا د هر چا رهنما دے الله
مددګار هر ساعت په هرخوا دے الله
په يو کُن ئي مخلوق هريو څيز کړۀ پيدا
پيدا کړے هر څيز دے مولىٰ د هرخوا
ښۀ قوي هر ساعت په رښتيا دے الله
په دنيا د هر چا رهنما دے الله
حق نظر د هغه هر بشر ته مُدام

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره دلته لري د هرچا نه کلام
داسي ذات په صفت تل زما دے الله
په دنيا د هر چا رهنما دے الله

ډير کريم په هرچا داسي ربّ دے زما
حق رحيم په هر چا داسي ربّ دے زما
داسي دلته کښي يو په دنيا دے الله
په دنيا د هر چا رهنما دے الله

نۀ محتاج دے د چا يو الله يو الله
باقي ذات له پخوا يو الله يو الله
هر طرف ته موجود په دنيا دے الله
په دنيا د هر چا رهنما دے الله

نشته نشته شريك د هغۀ په دنيا
حق ده حق په دنيا دا احمد دا وينا
لَمْ يَلِدْ، لَمْ يُوْلَدْ حق صفا دے الله
په دنيا د هر چا رهنما دے الله

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 37 ﴾

ونے بوټی ، غرونه لوئے لوئے ، وايه وايه دا د چا دی
دا الله دی دا الله دی، دا الله دی دا الله دی

موسمونه رنګ په رنګ ، نعمتونه رنګ په رنګ
داوختونه رنګ په رنګ ، شته رنګونه رنګ په رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا څيزونــه دلتــه ټول ، پــه دنيــا کښې چې پيدا دي
د الـلّـــه دي د الـلّـــه دي، د الـلّـــه دي د الـلّـــه دي
د ذرّے ذرّے مـالك دے ، د هريـو حصے مالك دے
د هريـو چينـے مالك دے ، د هريو قصے مالك دے
صـفتونـه داد چـا دي ، چـې راغلـى ښـهٔ صفا دي ؟
د الـلّـــه دي د الـلّـــه دي، د الـلّـــه دي د الـلّـــه دي
ښـکلـى ښـکلـى اسمـانونـه ، د مولـىٰ دي جنتونـه
د مـولـىٰ دي ښـهٔ نـومـونـه ، هـر طرف ته ټول حمدونه
ټـول څيـزونـه دجهان ، دلتـه کښې چې په هر خوا دي
د الـلّـــه دي د الـلّـــه دي، د الـلّـــه دي د الـلّـــه دي
زهٔ احـمـد ئي صفت ليکم ، حق دے دا حقيقت ليکم
زهٔ چې نـور دعـزت ليـکـم ، هـرطـرف ته رحمت ليکم
دا څيـزونـه ټول د چا دي ، څـهٔ چې دلتـه په دنيا دي
د الـلّـــه دي د الـلّـــه دي، د الـلّـــه دي د الـلّـــه دي

حمد باري تعالىٰ ﴿ 38 ﴾

تـــول صـــفتـــونــــه د الـــلّـــــه دي دلتـــــه
دا نـــعـــمتـــونــــه د الـــلّـــــه دي دلتـــــه
ربّ گـــرځـــولـــى رنگ پــــه رنگ خـلـق دي
څـوك دي بـې نـنـگــه څـوك د نـنگ خـلـق دي
دا تـــقسيـــمـــونـــه د الـــلّـــه دي دلتـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــول صــــفتـــونـــــه دالـــلـــــه دی دلتـــــه
ونـــے او بـــوتـــی د جهـــان دلتـــه کښــي
ذرّه ذرّه د هـــــر میـــدان دلتـــــه کښـــي
تـــول چـــمـــنـــونـــه دالـــلـــــه دی دلتـــه
تـــول صـــفتـــونــــه دالـــلــــه دی دلتـــه
غـــرونــه چینــــے پــــه هـــرطـــرف دلتــه کښـي
دا نـــظـــارے پـــه هـــرطـــرف دلتـــه کښـــي
شـــکـــلـــی گـــلـــونـــه دالـــلـــه دی دلتـــه
تـــول صــفتـــونـــه دالـــلـــه دی دلتـــه
کـــلـــه سپـــرلـــے کـــلـــه خـــزان چـــي راځـــی
یـــخـــنـــی گـــرمـــي پـــه دې جهـــان چـــي راځـــی
تـــول مـــوســـمـــونـــه دالـــلـــه دی دلتـــه
تـــول صـــفتـــونـــه دالـــلـــه دی دلتـــه
بـــره وریـــځ لانـــدے بـــاران تـــري څـــاڅـــی
لـــکـــه غـــلبیـــل پـــه هـــرمـــکـــان تـــري څـــاڅـــی
دا رحـــمـــتـــونـــه دالـــلـــه دی دلتـــه
تـــول صـــفتـــونـــه دالـــلـــه دی دلتـــه
شـــاکـــر احـــمـــد عـــلـــی د هـــغـــه ذات دے
مـــالك یـــوازے چـــي د مـــخـــلـــوقـــات دے
دا تـــول څیـــزونـــه دالـــلـــه دی دلتـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـول صـفـتـونـه دالـلٰـه دي دلتـه

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 39 ﴾

شتـه دے الـلٰـه، بـل يـو الـلٰـه نشتـه دے
شـريك دنيـا كبنـي د مـولـىٰ نشتـه دے
يـو دے مـعبـود زمـونـږ د تـولـو دلتـه
يـو دے مسـجـود زمـونـږ د تـولـو دلتـه
بـل پـه دنيـا مشـكـل كشـا نشتـه دے
شـريك دنيـا كبنـي د مـولـىٰ نشتـه دے
سـوال د هـغـه نـه انبيـاء كـړے دے
سـوال د هـغـه نـه اوليـاء كـړے دے
داسـي صـفـا ښـكـلـے ويـنـا نشتـه دے
شـريك دنيـا كبنـي د مـولـىٰ نشتـه دے
د هـرامـام هـغـه خـالـق مـالك دے
د خـاص اوعـام هـغـه خـالـق مـالك دے
داسـي اعـلـىٰ داسـي بـالا نشتـه دے
شـريك دنيـا كبنـي د مـولـىٰ نشتـه دے
پـه هـر مـقـام بـانـدي مـوجـود هـغـه دے
نـه دے والـد او نـه مـولـود هـغـه دے
داسـي ويـنـا حـقـه صـفـا نشتـه دے
شـريك دنيـا كبنـي د مـولـىٰ نشتـه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبر زمونږ نه په هر خوا هغه دے
مئين په تولو په هر چا هغه دے
مئين احمده! بل په ما نشته دے
شريك دنيا كښې د مولىٰ نشته دے

حمد باري تعالىٰ ﴿ 40 ﴾

سختو كښې خلق هر طرف ته يو رحمٰن يادوى
مخلوق ئې ټول د دغې زمكې او اسمان يادوى
كافران كله حقيقت ته د جهان كتلى
كافران كله شريعت ته د جهان كتلى
ذات د رحمٰن به په هر لور هر مسلمان يادوى
مخلوق ئې ټول د دغې زمكې او اسمان يادوى
درد او تكليف كښې ګرفتاره ورته ژاړى دلته
هر يو بشر ترينه تكليف كښې هر خوا غواړي دلته
دا هغهٔ ذات دے چې ئې دلته كښې شاهان يادوى
مخلوق ئې ټول د دغې زمكې او اسمان يادوى
هر چا ته هغه ډير نزدے په دې جهان دلته دے
خبر له هر څهٔ دلته دے زمونږ ايمان دلته دے
خوك ئې رحيم، خوك ئې كريم خوك ئې سبحٰان يادوى
مخلوق ئې ټول د دغې زمكې او اسمان يادوى
د الله نوم سره د پاك الله نه سوال كوهٔ تهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـوال پــه دنيــا كښې د جمـال او د كمـال كوۀ تـۀ
مـالك د هـر جـمـال كمـال ئي هر انسـان يـادوي
مـخلـوق ئـي تـول د دغـي زمـكـې او أسمـان يـادوي
سوال د بـخـشـش تـرينـه احـمدعلى په جار كړے دے
سـوال د بـخـشـش تـرينـه هرڅائے ئي په هر دار كړے دے
مـحتـاج د هيـڅ نـۀ دے غـنـى ئي تول جهان يادوي
مـخلـوق ئـي تـول د دغـي زمـكـې او أسمـان يـادوي

حمد باري تعالىٰ ﴿ 41 ﴾

ستـــــا رضـــــا چــــي راســـــره وي
دا دنيـــــــا دے بيـــــا خـــــفـــــــه وي
پــــــه دنيــــــا مـــــي پـــــرواه نشتــــــه
چــــي پــــــه تــــا مـــي بهـــروســــه وي
هــــرســــاعـــــت دے يــــادومـــــه
رنـــــا ورځ وي او كـــــــۀ شپـــــــه وي
ستــــا د يـــــاد ســـــره ســـكــــون دے
هـــرځـــــائـــے ستـــا چـــي تـــذكــــره وي
د فـــــــلاح يــــــو عـــــــلامـــــــت دے
چــــي د چـــا ســـره كـــلـــمـــــــه وي
د احـــــمـــــد بنـــكـــلــــے ويـــنــــا ده
د تــــوحيـــــد ويــــنـــــا خـــــوږه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمد باري تعالیٰ ﴿ 42 ﴾

دغه هرڅه په دنیا کښې راته وایه ټول د چا دي ؟
د الله دي د الله دي، د الله دي د الله دي
د الله دي اسمانونه
د الله دي لوئې لوئې غرونه
دا سیندونه، دریابونه
موسمونه، چمونه
بره ستوري په آسمان کښې په تیارهٔ کښې چې رڼا دي
د الله دي د الله دي، د الله دي د الله دي
لوح قلم دیو الله دے
هر ادم دیو الله دے
هر عالَم دیو الله دے
هر کرم دیو الله دے
مخلوقات چې ځومره دلته اَلوتونکي د فضا دي
د الله دي د الله دي، د الله دي د الله دي
حق قرآن د پاك الله دے
حق بیان د پاك الله دے
ژوند جهان د پاك الله دے
حق برهان د پاك الله دے
اُوسیدونکی مخلوقات چې ځومره دلته په دریا دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله دي د الله دي، د الله دي د الله دي
د احمد علی مالك دے
د هر یو نبی ﷺ مالك دے
د هر یو ولی مالك دے
د هر یو قوي مالك دے
څومره دلته صفتونه بیان کړي چې دا ما دي
د الله دي د الله دي، د الله دي د الله دي

دُعا

ربّه راته اُوښایه حقه نیغه لار ربّه!
رحم وکرم غواړمه، ستانه بار بار ربّه!
ته مشکل کشا زمونږ، ته ئي رهنما زمونږ
ښه خبیر د ټولو نه، ته ئي مقتدا زمونږ
اُوکړه اُوکړه لوئے کرم په ما ګناه ګار ربّه!
ربّه راته اُوښایه حقه نیغه لار ربّه!
ډیر مي ګناهونه دي، بوج لرم په سر دغه
ډیر امتحانونه دي، بوج لرم په سر دغه
ربّه! معافي غواړمه، ډیر یم خطاکار ربّه!
ربّه راته اُوښایه حقه نیغه لار ربّه!
ډیر راته ګران شوے دے دلته کښې ژوندون زما
اُور د نیران شوے دے دلته کښې ژوندون زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــوارم درنـــه غــوارمـــه زۀ دزړۀ قـــرار رڼـــه !
رڼـــه راتـــه اُوښـــايـــه حـــقـــه نـيـغـــه لار رڼـــه !
غــوارم درنـــه غــوارمـــه ، نــور د هــدايــت دلتـــه
زۀ احــمــدعــلــی غــوارم نــور د شــريــعــت دلتــه
داســـي پـــه دنيــا کښـي يـم دلتـــه طلبګـار رڼـــه !
رڼـــه راتـــه اُوښـــايـــه حـــقـــه نـيـغـــه لار رڼـــه !

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 43 ﴾

پـاس آسـمـانـونـه ، لانـدې زمـکـه دا د چا دی دلتـه ؟
دا د الـلّـــــه دی دلتـــــه ، د يـــو الـلّـــــه دی دلتـــه
لـوح او قـلـم بـره کرسی، چي لـه آسـمان پرتـه ده
عـــرش او ويـنــا چـي ورســـره د لامـکـان پـرتـــه ده
دا ټول څيـزونـه ښـکـلی ښـکـلی چي پيدا دی دلتـه
دا د الـلّـــــه دی دلتـــــه ، د يـــو الـلّـــــه دی دلتـــه
لانــدې پــه زمــکــه ميـدانـونـه د جهـان چـي وينـم
لاندې پـه زمکه لوئے لوئے غرونه د جهان چي وينم
دا ټول څيـزونـه چـي مـوجـود پـه دې دنيا دی دلتـه
دا د الـلّـــــه دی دلتـــــه ، د يـــو الـلّـــــه دی دلتـــه
تـول چـمـنـونـه او ګـلـونـه پـه دنيا کښي چـي دی
ټول مـوسـمـونـه او وختـونـه پـه دنيا کښي چـي دی
تـول مـخـلـوقـات چي هـرطـرف پـه دريا دی دلتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د اللـــه دي دلتـــه ، د يـو اللـــه دي دلتـــه
هرچا لـه هغـۀ پـه جهان کښې هريو څيز ورکړے
هرچالـه هغـۀ پـه اسمان کښې هريو څيز ورکړے
دا پـه ظاهـره څـۀ څيـزونـه چـې نن ستا دي دلته
دا د اللـــه دي دلتـــه ، د يـو اللـــه دي دلتـــه
سوال تـريـنـه کړے هرساعت دلتـه احمدعلي دے
ورتـه نيـولـے لاس دنيـا کښـې پـه دنيـا ولـي دے
زمـا سـره چـې پـه ظاهـره څـۀ زمـا دي دلتـه
دا د اللـــه دي دلتـــه ، د يـو اللـــه دي دلتـــه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 44 ﴾

لَمْ يَلِدْ چې په دنيا دے ، د هر چا مشکل کشا دے
دا صـفـت د يـو اللـه دے ، دا صـفـت د يـو اللـه دے
د رحـــــمـــــن ســـــره رحيـــــم دے
د کـــــرم مـــــالك کـــــريـــــم دے
د مـابـام خـالق تـنهـا دے ، يو خـالق د هـر صبا دے
دا صـفـت د يـو اللـه دے ، دا صـفـت د يـو اللـه دے
هـــــر اســـمـــان د هـــغـــه ذات دے
حـــق رازق د مـــخـــلـــوقـــات دے
هر طـرف تـه پـه رښتيـا دے ، خبرداره لـه هرچا دے
دا صـفـت د يـو اللـه دے ، دا صـفـت د يـو اللـه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادشاهان ئي پيدا کړي
رسولان ئي پيدا کړي
مَل زما سره هم ستا دے، هر طرف ته په هرخوا دے
دا صفت ديو الله دے، دا صفت ديو الله دے
هر يو خيز ئي په قبضه کښي
ذکر شوے کلميه کښي
حق مالك د پاس فضا دے، يو مالك د دي هوا دے
دا صفت ديو الله دے، دا صفت ديو الله دے
د کمال هغهٔ مالك دے
د جمال هغهٔ مالك دے
مهربان په ما اوتا دے، په قرآن سره گويا دے
دا صفت ديو الله دے، دا صفت ديو الله دے
پاك له عيبه له نقصانه
ځان خبر کړهٔ له رحمٰنه
د بادشاه په سر بادشاه دے، هر صفت سره اعلىٰ دے
دا صفت ديو الله دے، دا صفت ديو الله دے
د فنا نه هغه پاك دے
د جفا نه هغه پاك دے
لاشريکه بے پروا دے، ښهٔ خبر له هر دعا دے
دا صفت ديو الله دے، دا صفت ديو الله دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



داحمدعلي ملگرے
د هريو ولي ملگرے
ښۀ کامله رهنما دے، رهنما د انبياء دے
داصفت ديو اللّٰه دے، دا صفت د يو اللّٰه دے

## حمد باري تعالیٰ ﴿45﴾

صرف تا نه مي غوښتلے هرځائے کښي ربّه! دعا ده
بس يو تاته مي فرياد دے، بس يو تا ته مي ژړا ده
خير لټانه ربّه! غواړم د دنيا په هر مقام
خير لټانه ربّه! غواړم په دنيا کښي تل مدام
په رضا مي ستا رضا ده ، حق توبه مي عقبیٰ ده
بس يو تاته مي فرياد دے، بس يو تا ته مي ژړا ده
د هرچا مشکل کشائي مشکلات چي دجهان وی
خبرداره له هرچائي مشکلات چي د جهان وی
ستا رضا زما خندا ده، خوشحالي مي د دنيا ده
بس يو تاته مي فرياد دے، بس يو تا ته مي ژړا ده
د زړۀ حال درته معلوم دے، کلکه دا مي عقيده ده
استقبال درته معلوم دے، کلکه دا مي عقيده ده
دا وينا تهوله رښتيا ده ،دا وينا تهوله صفا ده
بس يو تاته مي فرياد دے، بس يو تا ته مي ژړا ده
داحمد په حال خبرئي ، اے مولیٰ غني سبحانه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

مددګار ئې د هر درئې ، اے مولیٰ غنی سبحانه !

پیدا کړے تا بَلا ده ، ختمه کړے تا بَلا ده

بس یو تاته مې فریاد دے ، بس یو تا ته مې ژړا ده

حمد باري تعالیٰ ﴿ 46 ﴾

یادوُم تا په سحر کښې ، یادوُم تا مازیګر کښې

ربّه ! بل چا باندې څۀ کړم ، یادوُم دے په هر در کښې

مصیبت کۀ وی دنیا کښې ، راته هغه وخت یادیږے

یادوُم ربّه! هرځائے کښې ، هر طرف ته تا په سر کښې

نور څوك نۀ راته یادیږی ، بس یو تۀ راته یادیږے

یادوُم دے هم په اُوچه ، یادوم دے سمندر کښې

غم مې ستا په یاد رخصت شی ربّه! هرځائے هرساعت

ربّه ! تا زیاده ایښے د دنیا په هر سحر کښې

هر نبی دے ستا محتاجه ، هر ولی دے ستا محتاجه

ربّه! تۀ راسره مَل ئې په سفر کښې او حضر کښې

شر او خیر تا پیدا کړی هر طرف ته د جهان دی

زیاتا ده اچولے بره پاس په شکلی نمر کښې

نۀ والد ئې نۀ ولد ئې د احمد دا عقیده ده

مددګار زمونږه تۀ ئې هرساعت په لر او بر کښې

★★★★★★★تمت بحمد الله تعالیٰ و بتوفیقه ★★★★★★★

★★★★★وافوض امری الیٰ الله ★★★★★

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**